**امنيت شورا**

خپرېدل: عمومي

۱۶ جون ۲۰۱۰

اصل: انګليسي

---

**د ۱۹۱۷ (۲۰۱۰) پرېکړه ليک د ۴۰ پاراګراف پر بنسټ د سرمنشي راپور**

**لومړی. سريزه**

۱. د امنيت شورا په خپل ۱۹۱۷ (۲۰۱۰) پريکړه ليک کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي (يوناما) د ماموريت موده د ۲۰۱۱ کال د مارچ تر ۲۳ نيټې پورې وغځوله او له سرمنشي يې وغوښتل چې د افغانستان د پرمختګونو په اړه په ربعوار ډول راپور ورکړي. دا اوسنی راپور لومړنی راپور دی، چې د دغه پرېکړه ليک سره سم وړاندې شوی.

۲. دا راپور د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ۱۰ نېټه خپور شوي راپور (A/64/705-S/2010/127) راپدېخوا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوي (يوناما) د کړنو په هکله تازه معلومات وړاندې کوي. همدارنګه دا راپور د ارزونې لاندې مودې پر مهال د سولې مشورتي لويې جرګې، د ملي تقنيني ټاکنو لپاره د چمتووالي او د پوليسو د ملي ستراتيژۍ جوړولو او همدارنګه د افغانستان په تړاو د سيمه ايزو او نړيوالو غونډو په ګډون، د مهمو سياسي او امنيتي بدلونونو او پرمختګونو يو لنډيز وړاندې کوي

**دويم: په افغانستان کې د مهمو سياسي او امنيتي بدلونونو**

۳. د افغانستان حکومت د امنيت د ښه والي، بيا يوځای کېدو او پخلاينې او د پارلماني ټاکنو لپاره د چمتووالي په برخه کې د نوي هوډ سره خپلو هڅو ته دوام ورکړی او د ۲۰۱۰ کال د جنوری په ۲۸ د افغانستان په اړه د لندن په کنفرانس کې د خپلو ژمنو سره سم سيمه ايزې همکارۍ لا زياتې کړې دي. همدارنګه په کابل کې د کېدونکي کنفرانس لپاره چې د ۲۰۱۰ کال د جولای په ۲۰ به جوړ شي، چمتوالی روان دی او د سولې او بيا يوځای کېدو پروګرام يوه پرمختللې مسوده هم د اپريل په پای کې خپره شوه؛ نورې برخې هم پاملرنې ته اړتيا لري څو بنسټيز پرمختګ رامنځته شي او د خلکو د تمې وړ اصلاحاتو اجنډا پر وخت پلي کولو ته، چې د افغانستان حکومت يې د ترسره کولو ژمنه کړې، زمينه برابره شي.

۴. د افغانستان حکومت خپل د سولې پلان لپاره د پراخ بنسټه تائید ترلاسه کولو په موخه د جون د میاشتې له ۲ څخه تر ۴ نېټې پورې د سولې مشورتي لویه جرګه جوړه کړه، چې د افغاني ټولنې بیلابیلو اقشارو او حکومتي ادارو او بنسټونو څخه ۱۶۰۰ استازو په کې ګډون کړی و. د یادونې وړ ده چې د یادې جرګې د پرانیستې او اختتام مراسمو د نږدې کتلو لپاره نړیوالو سازمانونو او بهرنیو سفیرانو ته هم بلنه ورکول شوې وه. د افغانانو په مشرۍ د دغې غونډې موخه د افغانانو خپلمنځي خبرو اترو د یو چوکاټ تعریفول او د سولې او بیا یوځای کېدو پروګرام په ګډون، د سولې بهیر لپاره د میکانیزمونو په هکله د بحث او خبرو اترو کول دي.

۵. د پوهنې وزیر، فاروق وردګ د جرګې د استازي د ماهیت او څرنګوالي په هکله ژورې سلا مشورې وکړې. د جرګې په استازو کې د ولسي جرګې غړي، والیان، د ولایتي شوراګانو غړي او د ولسوالیو استازي، او همدارنګه د ښځو، مدني ټولنو، تحصیلي او کلتوري بنسټونو استازي، علماء، د بیلابیلو توکمونو او قومونو مشران لکه کوچیان، هزاره ګان او د پاکستان او ایران څخه د مهاجرو استازي شامل دي. ولسمشر کرزي د مېرمنو ونډه له ۱۳ سلنې څخه ۲۰ سلنې ته زیاته کړې چې په پایله کې یې په ټولیزه توګه ۳۴۷ مېرمنو په یاده جرګه کې ګډون کړی و.

۶. د جرګې د پرانیستې په ورځ په جرګه د راکټونو توغولو او ځانمرګو بریدونو دسیسې د مخنیوي سربېره جرګې له کوم ځنډ پرته دوام وکړ. په ۱۶ ماده ییزه وروستۍ اعلامیه کې ګډونوالو د سولې د ټینګښت لارو چارو په اړه د ملي ډیالوګ د رابللو په موخه د ولسمشر کرزي د نوښت ملاتړ وکړ او سپارښتنه یې وکړه، چې افغان حکومت دې د تلپاتې سولې لپاره د ملي ستراتیژۍ په توګه د سولې څو اړخیزه پروګرام جوړ کړي. اعلامیې همدا راز د افغانستان له حکومت او نړیوالو ځواکونو څخه غوښتنه کړې چې د "بې اعتباره راپورونو او بې بنسټه تورونو" له مخې نیول شوي افغانان خوشې کړي؛ د امنیت شورا د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) پریکړه لیک له مخې د بندیزونو له نوملړ څخه د افغان مخالفینو نومونه لرې کړي؛ او د هغو کسانو خوندیتوب او امنیت تضمین کړي چې د سولې له بهیر سره یوځای کیږي. جرګې د افغانانو په مشرۍ د سولې او پخلاینې له بهیر څخه د دوامداره ملاتړ هرکلی وکړ او د افغانستان په بیا رغونه کې یې د نړیوالې ټولنې له همکاریو مننه وکړه.

۷. د سولې او بیا یوځای کېدو پروګرام مسوده بیلابیلې کړنلارې لري، لکه د امنیت شورا د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) پریکړه لیک له مخې د جوړ شوي نوملړ بیاکتنه، سیاسي پناه، دریم هیواد ته جلاوطني، په انفرادي ډول پخلا شوو مخالفینو سره انتقالي مرستې، ټولنیزې پرمختیایي پروژې، د کرنې او طبیعي منابعو د ساتنې شرکتونو جوړول، د دندې روزنه او د افراطیت د مخنیوي پروګرامونه.

۸.	طالبانو په ټوله کې د سولې او پخلاينې وړانديزونو ته منفي غبرګون ښودلی دی. که څه هم، د مارچ په ۱۸نېټه د قطب الدين هلال په مشرۍ د حزب اسلامي د ګلبدين ګوند يوه پلاوي له ولسمشر کرزي، د ولسي جرګې له غړو، د طالبانو له پخوانيو غړو او د نړيوالې ټولنې له يو شمېر استازو سره هم وکتل.

۹.	افغانانو سره د يوه تړون په توګه د کابل کنفرانس په پام کې نيولو سره، د افغانستان حکومت اراده لري چې، د خدمتونو وړاندې کولو د لا ښه والي او زياتوالي لپاره د لومړيتوب پروګرامونو په ګډون، د پرمختيا، حکومتولۍ او امنيت د ښه کولو لپاره د افغانانو په مشرۍ يوه طرحه وړاندې کړي. که څه هم په دې کنفرانس کې به په دې اړه ژمنې نه وي، خو تمه کېږي چې بسپنه ورکوونکي به خپل پروګرامونه د دغو طرحو او مرستو د اغېزمنتيا اصل ته د ژمنتيا پر بنسټ تنظيم کړي. يادې طرحې او د پام وړ پايلې به د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ او د هغې د دايمي کميټو له لارې چمتو شي.

۱۰.	د سپټمبر د تقنيني ټولټاکنو لپاره چمتووالی د اپريل په ۱۷ د يوناما په منځګړيتوب د تطبيقي لارښوونو په صادرولو سره پيل شو، چې د ټاکنو قانون په اړه د ولسمشر د فبرورۍ د ۱۷ نېټې فرمان سره مل و (لاندې دريمه برخه هم وګورئ). دې کار د ولسي جرګې او ولسمشر تر منځ د اساسي قانون په اړه د مارچ په ۳۱ نېټه د پخواني فرمان د رد په اړه د يوې مياشتې راهيسې اوږد بحث او د اساسي قانون پر بنسټ د رد په اړه د هغه ضد دليلونو په مخنيوي کې مرسته وکړه.

۱۱.	د راپور ورکولو په موده کې، د ټاکنو خپلواک کميسيون د ولسي جرګې ټاکنو (۲۰ اپريل-۶ مۍ) لپاره د نوماندانو نوم ليکنه له کومې پېښې پرته ترسره کړه، چې په پايله کې يې د ۲۶۳۵ نوماندانو ابتدايي لومړنی نوملړ خپور شو، چې له ډلې يې ۴۰۰ تنه ښځې دي. دا شمېرې ډاډ رامنځته کوي چې لږترلږه، ښځينه نوماندان به د دوی لپاره ټولې ۶۸ ځانګړې شوې څوکۍ ډکې کړي او ښايي چې اضافي څوکۍ هم ترلاسه کړي. د ټاکنو د خپلواک کميسيون لخوا د عامه پوهاوي د اغېزمن کمپاين په پايله کې د تيرې اونۍ په اوږدو کې د ښځينه نوماندانو شمير د پام وړ لوړ شو. د ښځينه نوماندانو شمېر د ۲۰۰۵ کال د پارلماني ټاکنو په پرتله زيات شوی، چې هغه مهال ۲۷۰۷ تنه نوماندان وو او له ډلې يې ۳۲۸ ښځې وې.

۱۲.	د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون په خپله لومړنۍ پرېکړه کې، د مۍ په ۲۴ نېټه د ټاکنو له خپلواک کمېسيون څخه وغوښتل، چې له نوملړ څخه د ۲۲۶ ويستل شوو نوماندانو سره دې په خپلو غوښتنليکونو کې د نيمګړتياوو په اړه مشوره وکړي او د سمولو زمينه دې ورته برابره کړي. يو سل اته اتيا تنه نوماندان په دې وتوانيدل چې خپل غوښتنليکونه سم کړي او په دوهم ابتدايي نوملړ کې شامل شي.

۱۳.	د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د ټاکنیزو شکایتونو د ولایتي کمېسیونونو د جوړولو لپاره احتمالي کمېشنران او ملاتړي کارکوونکي ټاکلي دي. ولسمشر د می په ۲۹ نېټه د ټاکنیزو شکایتونو د ولایتي کمېسیونونو د ۱۱۳ کمېشنرانو ګمارنه تایید کړه، چې ۶ یې ښځې دي. په همدې حال کې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د نوماندانو د نوملړ پر وړاندې د ننګونو د څېړلو موده د مې په ۱۲مه پیل شوې او تمه ده چې د جون په ۱۰مه به پای ته ورسېږي. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په مشرۍ د ارزونې کمېټې (د کورنیو چارو او دفاع وزارتونو او همدارنګه د ملي امنیت ریاست استازي پکې شامل دي) د ۸۵ نوماندانو نومونه د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته سپارلي او سپارښتنه یې کړې، چې د ناقانونه وسله والو ډلو سره د دوی د اړیکو له امله دې له ابتدایي نوملړ څخه حذف شي. دغو نوماندانو ته وخت ورکړل شوی، چې د جون تر ۴ نېټې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته حاضر شي. دغه راز، د نوماندانو د لومړني نوملړ پر وړاندې ۱۲۶ نورې ننګونې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته د څېړنې او پرېکړې لپاره استول شوې دي، چې ۲۴ یې له غیر قانوني وسله والو ډلو سره د تړاو په تور د نوماندانو اړوند دي.

۱۴.	د ملي شورا د تقنیني اجنډا په نورو برخو کې، او له اوږدو بحثونو وروسته، ولسي جرګې د اپریل په ۲۴ نېټه د ۱۳۸۹ مالي کال (د ۲۰۱۰ کال له مارچ څخه تر ۲۰۱۱ کال پورې) تعدیل شوې ملي بودجه تصویب کړه. ولسي جرګې د جون په ۹ نېټه، د اساسي قانون پر پلي کېدو د څار خپلواک کمېسیون لپاره د ولسمشر کرزي له خوا معرفي شوي پنځه نوماندان تایید کړل. دغه کمیسیون چې د افغانستان د اساسي قانون په ۱۵۷مه ماده کې ترې یادونه شوې او له اوو غړو څخه جوړ دی، پنځه غړو ته اړتیا لري چې نصاب یې پوره شي او د یادو غړو له تائید وروسته خپل کارونه پیل کړي. ولسمشر تر اوسه د کابینې د تشو بستونو لپاره د نوماندانو نومونه نه دي سپارلي، چې دا مهال د کورنیو چارو وزیر له استعفا وروسته ۱۲ تنه دي. په همدې حال کې مشرانو جرګې د هېواد په ګوټ ګوټ کې هغه امنیتي پېښې وغندلې چې له امله یې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې او د بهرنیو ځواکونو د قانوني دریځ په اړه یې بحثونه راپورته کړل.

۱۵.	د افغانستان د امنیتي سکتور پراختیا د پالیسۍ یو پراخ کاري چوکاټ ته اړتیا لري چې پکې د ملي ګواښ ارزونه شامله وي، چې دا چاره د افغانستان د ملي امنیت د پالیسۍ او اړوندې ستراتیژۍ بنسټ دی. د افغانستان د ملي امنیت شورا سره کار کول، چې د حکومت د امنیتي سکتور د پالیسۍ چوکاټ د پراختیا د همغږۍ مسولیت لري، یوناما د ملي ګواښ ارزونې د مسودې په اړه نظریات او مشورې وړاندې کړې.

۱۶.	یوناما د کورنیو چارو وزارت د ملي پولیسو د ستراتیژۍ او د ملي پولیسو د پلان په جوړولو کې هم مرسته کړې ده. همدارنګه د کورنیو چارو وزارت د وزارت او افغان ملي پولیسو لپاره د کارکونکو یو جدول (تشکیل) تایید کړ. د ملي پولیسو د ستراتیژۍ تایید، هغه ژمنه چې د لندن په کنفرانس کې شوې وه، د ملي پولیسو د ځواک د رامنځته کولو په لور یو لوی ګام دی چې وبه کولای شي د ملکي پولیسو او د تندلارۍ ضد دندې ترسره کړي. د ملي پولیسو پلان او تشکیل دا په ډاګه کوي چې له اداري اصلاحاتو سره یوځای د کورنیو چارو وزارت او افغان ملي پولیسو د زیات جلب او جذب توازن ته اړتیا ده. تمه کېږي چې د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) روزنیز ماموریت، د افغانستان د امنیت د انتقال ګډه قوماندانۍ او د اروپايي ټولنې د

پولیسو ماموریت به د کورنیو چارو وزارت سره د دې دوه اړخیزه ننګونو له منځه وړلو په موخه د مرستې لپاره کافي سرچینې چمتو کړي.

۱۷. د افغان ملي امنیتي ځواکونو د پراختیا لپاره د حکومت د ودې او اصلاحاتو پلانونه د ستراتیژیکو اهدافو په توګه دوام لري چې د نړیوالو نظامي ځواکونو او تمویل کونکو لخوا یې ملاتړ کیږي. افغان ملي پولیس او افغان ملي اردو دواړه د لنډمهاله هدفونو څخه یو څه مخکې دي، چې د لندن کنفران د هوکړې سره سم، د ۲۰۱۰ کال تر اکتوبر میاشتې پورې د ۱۰۹۰۰۰ افغان ملي پولیسو او ۱۳۴۰۰۰ افغان ملي اردو او د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر تر میاشتې پورې د ۱۳۴۰۰۰ افغان ملي پولیسو او ۱۷۱۶۰۰ افغان ملي اردو درلودلو اهدافو ترلاسه کولو پر لور یې پرمختګ کړی دی.

۱۸. د امنیتي پېښو شمېر په ټولیزه توګه د تېر کال په پرتله او د موسمي بدلونونو برعکس د پام وړ زیات شوی دی، چې لامل یې د ۲۰۱۰ کال په لومړیو دریو میاشتو کې د هېواد په جنوبي سیمو کې د نظامي عملیاتو زیاتوالی او د جنوب ختیځ او ختیځو سیمو کې د دولت ضد عناصرو د فعالیتونو د پام وړ زیاتوالی ښودل شوی دی. په مرکزي هلمند او کندهار کې د عملیاتو په ترسره کولو سره د پوځ تمرکز په جنوبي سیمو کې پاتې شوی. د حکومت د لاسرسي پراخول لا هم اساسي هدف دی او اتکل کېږي چې د حکومتولۍ د پیاوړتیا او د اوږدمهاله پراختیا په موخه د خدماتو وړاندې کولو لپاره د هڅو پر وخت پلي کول به بریالي وي. دا د افغان ملي امنیتي ځواکونو او غیر امنیتي وزارتونو تر منځ زیاتې او سیستماتیکې همکارۍ ته اړتیا لري، او همدارنګه د نړیوال امنیتي مرستندویه ځواک یا ایساف او نړیوالې ټولنې لخوا همغږې، منسجمې او ټول شموله ملاتړ ته اړتیا لري.

۱۹. په ډېری پېښو کې وسله والې نښتې او ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي شامل دي، چې هره یوه د راپور شوېو پېښو دریمه برخه جوړوي. د چاودیدونکو توکو د پېښو زیاتوالی د اندیښنې وړ موضوع ده، چې د ۲۰۱۰ کال په لومړیو څلورو میاشتو کې د ۲۰۰۹ کال د ورته مودې په پرتله ۹۴ سلنه زیاتوالی موندلی دی. لږ تر لږه په اونۍ کې درې ځان وژونکي بریدونه ترسره کیږي، چې نیمایي یې یواځې په جنوبي سیمو کې پېښیږي. شدید ځانمرګي بریدونه په میاشت کې نږدې دوه ښودل شوي دي چې د ۲۰۰۹ کال په اوږدو کې په اوسط ډول په میاشت کې د یوې شدیدې حملې په پرتله لوړ دي. ورته دغه ډول دوه بریدونه په کابل او هلمند کې د بهرنیو ملکي وګړو پر میلمستونونو ترسره شوي. د ډېرو شدیدو ځانمرګو بریدونو ترسره کولو تګلاره غوره کول د القاعدې سره تړلې سیمه ایزو ترهګرو شبکو مخ په زیاتیدونکې وړتیا څرګندوي. یاغیانو د ملکي خلکو په نښه کولو اهداف تعقیبولو ته دوام ورکړی، چې په اوسط ډول هره اونۍ اووه کسان ترور یا وژل کېږي، چې ډېری یې په سویل او سویل ختیځو سیمو کې ترسره شوي. دا د ۲۰۰۹ کال د ورته مودې په پرتله ۴۵ سلنه زیاتوالی ښیي. په سویل کې، په کندهار ښار کې د ملکي مامورینو، دیني عالمانو او مخورو (د ښاروالۍ د مرستیال او د کرنې د کوپراتیف د رییس په ګډون) د لوړ پوړو چارواکو وژنې په ښاریانو د کنټرول رامنځته کولو په موخه ترسره کېږي.

۲۰.	د اپریل په ۲۲ او ۲۳ نیټه په تالین کې د ناټو د غړو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په کنفرانس کې پر یو داسې چوکاټ هوکړه وکړه چې له نړیوالو پوځي ځواکونو څخه افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د امنیتي مسولیتونو د پایداره لیږد بهیر د امنیت په برخه کې د دوامدار پرمختګ او د ملي امنیتي ځواکونو وړتیا پر بنسټ، د نورو عواملو لکه، د پرمختیا وضعیت، حکومتولي، د قانون حاکمیت او د قومي او توکمیزو ډلو ترمنځ استازیتوب توازن په پام کې نیولو سره ترسره کړي. د ایساف قومندان او د ناټو جګپوړي ملکي استازي ته دنده سپارل شوې څو یوه طرحه جوړه کړي، چې د انتقال لپاره د افغان-نړیوالو سوله ساتو ځواکونو ګډه طرحه به د کابل په کنفرانس کې وړاندې شي. د لیږد لپاره په واضح ډول ټاکل شوي شرایط باید د ۲۰۱۰ کال د نومبر په پای کې د لیزبون په ښار کې د ناټو په سرمشریزه کې وړاندې شي. په داسې حال کې چې نړیوال شریکان د لندن د کنفرانس له ژمنو سره سم د افغانستان له حکومت سره کار ته دوام ورکوي، دا روښانه ده چې د لیږد په ترتیباتو کې د محلي اړتیاوو او شرایطو تنوع په پام کې ونیول شي او ورسره سمون ولري. دغه شان دا به هم مهمه وي چې ډاډ ترلاسه شي چې د لیږد پلان غیر امنیتي اړخونه منعکس کوي او د افغان حکومتولۍ او پراختیا لومړیتوبونو سره سمون لري. یوناما به د دې هڅو د ملاتړ لپاره د افغان او نړیوالو سوله ساتو ځواکونو همکارانو سره په ګډه کار وکړي.

۲۱.	افغان حکومت او د دوی کلیدي شریکانو د پراخې سیمه ایزې همکارۍ او په افغانسان کې پر امنیت او پراختیا یې د مثبتو اغېزو د لا زیاتوالي لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړی دی. د افغانستان او سیمې هېوادونو ترمنځ ډیپلوماټیکې اړیکې د پام وړ زیاتې شوي او له هند او چین سره د دوه اړخیزو او سیمه ایزو همکاریو په هکله په لوړه کچه سیاسي ډیالوګ رامنځته شوی او د ایران اسلامي جمهوریت او پاکستان سره د لیدنو کتنو په کچه کې هم زیاتوالی راغلی دی. ولسمشر کرزي د مارچ له ۲۳ نېټې څخه تر ۲۵ نېټې پورې چین ته د خپل سفر په ترڅ کې له چینايي مشرانو سره د ترهګرۍ پر وړاندې مبارزې په هکله خبرې اترې وکړې او د اقتصادي همکارۍ لکه، تخنیکي روزنو او چین ته د افغانستان پر صادراتو د تعرفو کمولو په برخو کې یو شمېر تړونونه هم لاسلیک کړل. په ورته وخت کې ولسمشر کرزي د اپریل په ۲۶ او ۲۷ نېټه هند ته د خپل سفر پر مهال د افغان حکومت د سولې ټینګښت تګلارې پر محور د هند له لومړي وزیر منموهن سینګ سره بحث او خبرې اترې وکړې.

۲۲.	د اپریل په ۲۱ ا و۲۲ د کاناډا په ملاتړ د دوبۍ بهیر تعقیبي ناسته په دوبۍ کې جوړه شوه. د افغانستان او پاکستان حکومتي مسؤلینو د مهمو سرحدي عبوري نقطو د نوي کولو پر وضعیت بیاکتنه وکړه او د ګمرکونو لپاره د نوو سرایونو او حلقوي سړکونو پر جوړولو او د پولې په کنټرول کې د حکومتي اصولو او مسؤلیتونو رامنځته کولو لپاره د پیسو نړیوال صندوق اهدافو ترلاسه کولو په موخه د پولې د مدیریت تګلارې پر جوړولو بحث او خبرې اترې وکړې.

**دریم: په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی او ملګرو ملتونو د هېواد په کچه ټیم فعالیتونه**

**الف. سیاسي فعالیتونه**

۲۳.	زما نوی ځانګړی استازی، سټیفن دي میستورا د مارچ په ۱۳ نېټه کابل ته راورسېد او سمدلاسه یې د افغانانو د مالکیت او رهبرۍ په ملاتړ د یوناما د کړنو په هکله د خپلو نظرونو په اړه له افغان حکومت سره بحث او خبرې اترې پیل کړې. یوناما په ۱۹۱۷ (۲۰۱۰) پرېکړه لیک کې ذکر شوو لومړیتوبونو او د افغانانو په مشرۍ راتلونکو سترو پروګرامونو (لکه د سولې مشورتي جرګه، د کابل کنفرانس او پارلماني ټاکنې) ته په پام سره، د تلپاتې سولې او پرمختیا لپاره د بنسټونو په رامنځته کولو کې د افغان حکومت او افغانانو سره د مرستې لپاره د ملګرو ملتونو ټولیز رول څخه په ملاتړ کې څلور لومړیتوبونه (درې جمع یو) په ګوته کړي، او په ورته وخت کې یې د بشري حقونو او بشردوستانه چارو په برخه کې رواني هڅې هم جاري ساتلي دي. په دغو دریو سیاسي لومړیتوبونو کې د ټاکنو ملاتړ، پخلاینه او بیا یوځای کېدنه او سیمه ایزه همکاري؛ او څلورمه یې د مرستو انسجام او همغږي شامل دي.

۲۴.	زما ځانګړي استازي، د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه شي چې د یوناما ساحوي شتون منظم شوی، سرچینې چمتو شوي او د دې ماموریت لومړیتوبونو ته د رسیدو لپاره اړینې لارښوونې برابرې شوي، ټولو زونونو ته یې خپل سفرونه پیل کړل. نوموړي ګردېز، خوست، مزارشریف، کندهار او هرات ته په خپل سفر کې، چې هلته یې د ملګرو ملتونو له کارکوونکو، ځايي اوسېدونکو او چارواکو سره وکتل، د ملګرو ملتونو د پراخ حضور او له افغان ولس سره اوږدمهاله اړیکو له لارې یې د ملګرو ملتونو ژمنې لا پیاوړې کړې ترڅو په دې برخو کې د اسانتیاوو برابرونکي او خلکو ته د رسېدنې رول تعقیب کړي.

**ټاکنیزې مرستې**

۲۵.	ولسمشر کرزي د مارچ په ۶ نېټه د امنیت شورا د ۱۹۱۷ (۲۰۱۰) پرېکړه لیک پر بنسټ چې په کې یادې شورا د ټاکنو بهیر لپاره د نړیوالې مرستې او ملاتړ د بشپړې همغږۍ برابرولو کې د یوناما مخکښ رول په درلودلو ټینګار کړی، د ولسي جرګې ټاکنو لپاره د یوناما د تخنیکي او لوژستیکي ملاتړ غوښتنه وکړه. که څه هم، د فبرورۍ د ۱۷ نېټې د ولسمشریزو ټاکنو فرمان د ولسي جرګې لخوا د مارچ د ۳۱ رد کول، او وروسته د ټاکنو د قانون د وضعیت په اړه د وضاحت نشتوالی، د نړیوالې ټولنې لخوا د دې ټاکنو د تمویل په برخه کې د پریکړو د ځنډ لامل شو.

۲۶.	زما د ځانګړي استازي د منځګړیتوب له لارې، یوناما د اجرائیوي او مقننه قوو ترمنځ د مناظرې د حل لپاره اسانتیاوې برابرې کړې. د ولسمشر او د هغه د دفتر، د ولسي جرګې غړو او د مدني ټولنې له فعالانو سره تر سلا مشورو وروسته، یوناما د اپریل په ۱۷ نېټه د تطبیق د لارښوونو په اړه د یو هوکړه لیک اعلان وکړ، چې د ۲۰۱۰ کال د فبروري د ۱۷نېټې فرمان سره په ګډه ولوستل شي، چې د یاد فرمان او د ۲۰۰۵ کال فرمان تر منځ لوی توپیرونه راکموي.  دغه لارښوونې عبارت دي له: (الف) د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پیاوړتیا، (ب) د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون جوړښت او د رایې ورکولو طرزالعمل؛ او (ج) هغه احکام چې پر بنسټ یې په ولسي جرګه کې د ښځو استازیتوب کېږي.

۲۷.	ولسمشر کرزي د اپریل په ۵ نېټه، فضل احمد معنوي د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د نوي رییس په توګه وټاکه او ورپسې عبدالله احمدزی د می په ۴ نېټه د ټاکنو د دارلانشاء د رییس په توګه وټاکل شو. دا ګمارنې د افغانستان د ټاکنیزو اړخونو لخوا مثبتې یادې شوې. سربېره پردې، ولسمشر د ټاکنیزو شکایتونو پنځه کسیز کمیسیون ته زما د ځانګړي استازي له خوا نومول شوي دوه نړیوال غړي هر یو: د جنوبي افریقا د اساسي قانون د محکمې پخوانی غړی او د جنوبي افریقا اوسېدونکی قاضي جوهان کریګلر، او د عراق د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پخوانی غړی، صفوت صدیقي تائید کړل. د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون د اپریل په ۱۸ نېټه د ولسمشر د فرمان له مخې رامنځته شو او د می په ۲۰ نېټه د دوو نړیوالو کمېشنرانو له راتګ سره یې په بشپړه توګه خپلې چارې پیل کړې.

۲۸.	په ولسي جرګه کې د ښځو د څوکیو په اړه یوه ماده تصریح او روښانه شوې، څو ډاډ ترلاسه شي چې د پارلمان ۶۸ څوکۍ چې په اساسي قانون کې د ښځو لپاره ځانګړې شوې دي، د ښځو د استازیتوب لپاره کمې دي او ټاکل شوی حد نه پوره کوي. همدارنګه ډاډ ترلاسه شوی چې په هغه صورت کې چې یوه ښځینه نومانده غیر ځانګړې شوې څوکۍ وګټي مګر د ټاکل شوي څوکۍ په ترلاسه کولو ونه توانیږي، دغه څوکۍ به بلې ښځینه نوماندې ته ورکول کېږي چې ډیرې رایې یې ترلاسه کړې وي.

۲۹.	زما ځانګړي استازي د دې موضوع د درک له مخې سپارښتنه کړې چې نړیواله ټولنه دې د غوښتل شوې تخنیکي او لوژستیکي مرستې ترسره کولو په موخه مالي تمویل برابر کړي. د پروژې وروستی سند، چې د ملګرو ملتونو د پراختیايي پروګرام (UNDP) لخوا خورا متمرکزې مرستې چمتو کوي، د می په ۱۱ نیټه د تمویلوونکو ټولنې او د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د رییس په حضور کې تصویب شو. که څه هم اوس مهال د سرچینو تشه د شاوخوا ۵۰ میلیون ډالرو (د ۱۵۰ میلیون ډالرو ټولټال اټکل شوې بودیجې څخه) ده، تمه کیږي چې دا به د بسپنه ورکوونکو لخوا پوره شي.

۳۰.	دې ته په پام سره چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون د دې ټاکنیز بهیر مشري کوي، د افغانانو شته ظرفیتونو ته وده ورکول او ورسره مرسته کول د ملګرو ملتونو دنده ده. دا به د کمیسیون د ملاتړ لپاره نړیوالې ټاکنیزې مرستې همغږي کړي او د ټاکنیزو مرستو په چمتو کولو کې عملیاتي همغږي او اغیزمنتوب به ډاډمن کړي. د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام (UNDP) به د هغو فعالیتونو د همغږي کولو مشري په غاړه واخلي چې د ټاکنیزو عملیاتو د چمتووالي او ترسره کولو لپاره اړین دي، چې عملیاتي پلان جوړونه، تدارکات، د کړنلارو جوړول او روزنې، او لوژستیکي مرستې په کې شامل دي، خو په دې پورې محدود نه دي. همدارنګه دا به د ټاکنو نورو مهمو شریکانو لکه څارونکو، سیاسي ګوندونو او رسنیو په برخه کې د بشپړونکي ملاتړ فعالیتونه همغږي کړي. د امنیتي وضعیت د ښه والي په شرط به د اتو (۸) زونونو په مرکزونو کې د ملګرو ملتونو پراختیايي پرواګرام بهرني کارکوونکي هم حضور ولري.

۳۱.        ملګري ملتونه به د امنیت شورا ۱۹۱۷ (۲۰۱۰) ګڼه پریکړه لیک پر بنسټ له افغان ادارو او بنسټونو سره کار ته دوام ورکړي څو د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال ټاکنو له تجربو څخه ګټه پورته کړي او اوږدمهاله ټاکنیز اصلاحات رامنځته کړي، چې د راتلونکو ټاکنو لپاره د بنسټ په پیاوړي کولو  او د دولت جوړونې هر اړخیزې اجنډا کې د  ډیموکراتیکو پروسو په بنسټیزه کولو کې خورا مهم دي.

۳۲.        د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیونونو جوړولو او د کارکوونکو په ګمارلو کې مرسته کوي. په څلورو سویلي ولایتونو کې د امنیتي ننګونو او تهدیدونو سربیره د اداري او عملیاتي کارکوونکو د ګمارنې بهیر دوام لري، خو په ۱۲ ولایتونو کې لا هم د کمیسیونونو لپاره دفترونه ندي جوړ شوي.

**بیا یو ځای کېدل او پخلاینه**

۳۳.        د یوناما لخوا د افغانانو په مشرۍ د پخلاینې او بیا یوځای کېدو بهیرونو ملاتړ لا هم دوام لري. زما ځانګړي استازي د ولسمشر له ځانګړي سلاکار او د سولې او بیا یوځای کېدو پروګرام مشر، ښاغلي ستانکزي سره په لومړنۍ لیدنه کې د دې پروګرام د پیل پر ملاتړ هوکړې ته رسیدلي دي. یوناما د افغان چارواکو او د پوهنې وزیر او د سولې مشورتي جرګې د چمتووالي کمیسیون مشر، فاروق وردګ په غوښتنه، د یادې جرګې د ترسره کېدو په موخه تخنیکي مرسته وکړه.

۳۴.        افغان دولت د اپریل په ۲۲ نېټه له اړوندو همکارو شریکانو سره د سولې او بیا یوځای کېدو پروګرام لپاره د پروژې سند لندیز شریک کړ، چې پکې له یوناما څخه د ګډې دارلانشاء د ملاتړ غوښتنه شوې، چې په ترڅ کې به یې یاده دارلانشاء د دې پروګرام ورځنۍ چارې او کارونه ترتیب او د سولې، پخلاینې او بیا یوځای کېدو ولایتي کمیټه کې به ګډون وکړي. همدارنګه په یاد لنډیز کې وړاندیز شوی چې د امنیت دایمي کمېټه به، چې حکومت او یوناما یې په ګډه مشري کوي، د دې پروګرام لپاره ستراتیژیکې سپارښتنې جوړوي. همدارنګه یوناما د دې پروګرام د طرحې په هکله د پالیسي اړوند نظریات او معلومات وړاندې کړي او په ورته وخت کې یې، د حکومت او د بسپنه ورکوونکو همکارو شریکانو ترمنځ د ګډ پوهاوي رامنځته کولو په موخه د ډونرانو د همغږۍ غیر رسمي ناستو کوربتوب هم کړی دی.

۳۵.        زما ځانګړي استازي، د رغونکي او ټولګډونه ډیالوګ تعقیبولو او د یوې مناسبې سیاسي فضاء پیاوړي کولو لپاره د مناسبو لارو چارو په موندلو کې له افغانانو سره د مرستې په موخه د یوناما ماموریت سره سم، د افغان حکومت په تړاو د مارچ په لومړیو ورځو کې د حزب اسلامي له استازي سره لیده کاته کړي دي. ورته مهال، یوناما د غوښتنې سره سم، د بیلابیلو توکمونو

د استازو ترمنځ د خبرو اترو زمينې برابرولو لپاره چمتو ده، څو د پخوانيو شکايتونو په حل او د شخړو او کړکيچونو موجوده عواملو په له منځه وړلو کې مرسته وکړي.

**سيمه ايزه همکاري**

۳۶. د سيمه ايزو بهيرونو لپاره ملاتړ ته په لومړيتوب ورکولو کې د يوناما ماموريت پر بنسټ او د لندن کنفرانس رسمي اعلاميې سره سم، زما ځانګړي استازي د مې مياشتې په ۸ نېټه د کابل ورېښمو لار نوښت په لاره واچوه. د افغانستان د بهرنيو چارو وزارت په ګډه مشرۍ دا نوښت د افغانستان د ګاونډيانو او نږدې ګاونډيانو لپاره د سفيرانو يوه غير رسمي غونډه برابروي ترڅو د افغانستان په اوږدمهاله ثبات کې د خپلو ګډو ګټو په هکله بحث وکړي. د شته ميکانيزمونو لکه د سيمه ايزې اقتصادي همکارۍ کنفرانس پياوړي کولو او د مې په ۲۷ جوړ شوي د سيمه ايزې همکارۍ مرکز (چې د بيلابيلو سيمه ايزو همکاريو پروګرامونو لکه، د دوبۍ بهير، د مرکزي اسيا د سيمه ايزې همکارۍ پروګرام او د سيمه ايزې اقتصادي همکارۍ کنفرانس د دارلانشاء په توګه کار کوي) سره په کار کولو کې به د دې غونډې موخه پر وخت د کابل نظر ترلاسه کول وي ترڅو د باور زياتولو اقداماتو په ګډون، د سيمه ايزې سياسي، امنيتي او اقتصادي همکارۍ د لا زياتولو په موخه په بيلابيلو اساسي چارو کې پرمختګ وشي.

۳۷. د ګاونډيو او سيمې هېوادونو له سفيرانو او ځانګړو استازو سره زما د ځانګړي استازي ليدنې کتنې لا هم دوام لري څو له افغانستان سره د دوه اړخيزو اړيکو زيانمنونکو مسايلو او د افغانستان د لا زيات ثبات او پرمختګ لپاره د دوی د مرستې او ملاتړ په هکله خبرې اترې وکړي. نوموړي پاکستان، د ايران اسلامي جمهوريت او روسيې فدراسيون، او ټولو مهمو سيمه ييزو او متقابلو ګاونډي هېوادونو ته چې له افغانستان سره يې اوږدې او ټينګې اړيکې لرلې او د افغانستان ثبات ته لېواله و، خپل لومړنی سفر ترسره کړ. په ټولو دريو پلازمينو کې بحثونه د ملګرو ملتونو پر رول او فعاليتونو، د سيمه ايزې ښکيلتيا اهميت او د ليږد په بهير کې د افغانانو مشرۍ او خپلواکۍ ته پر اړتيا باندې متمرکز وو. همدارنګه په دغو ليدنو کې د ګډو ګټو نورې برخې او د ګډو نوښتونو او د پراخې همکارۍ لپاره، د نشه اي توکو د کنټرول په ګډون، بنسټيز ظرفيت هم وڅېړل شول.

۳۸. زما ځانګړي استازي له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د ايران د اسلامي جمهوريت د مثبتو ګامونو د ستاينې په ترڅ کې د درې اړخيز نوښت د بيا جوړولو لپاره د ايران غوښتنه ومنله، چې د لا زياتو همکاريو وړتيا يې څرګنده کړې ده. همدا راز نوموړي د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرمونو پر وړاندې مبازې دفتر کې د رنګين کمان ستراتيژۍ جوړولو کې د مرستې له کبله د پاکستان د دوامداره فعالې همکارۍ ستاينه وکړه او د نشه اي توکو ضد ځواک لخوا د مارچ په ۲۱ نېټه په کراچۍ کې د ۱۵۸۰۰ کيلو ګرامه اسيتيک انهايدرايد د پام وړ کچې نيولو يادونه يې هم وکړه. په ورته وخت کې، زما ځانګړي استازي په دې مسله کې د سيمې د لا ښکيلتيا په برخه کې د روسيې فدراسيون د مثبت دريځ هرکلی وکړ.

**د مرستو انسجام**

۳۹. زما ځانګړي استازي، د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ د مرستیال په توګه د افغان حکومت د پرمختیايي او حکومتولۍ لومړیتوبونو لپاره د نړیوالې ټولنې د خورا منسجمې مرستې او همکارۍ د لا زیاتوالي غوښتنه وکړه، او په ورته وخت کې یې د حکومت له لارې رسېدونکو پرمختیايي مرستو د ونډې زیاتولو او له دغه ډول سرچینو څخه د حکومت د استفادې د روڼتیا او ګټورتوب د لا زیاتوالي هڅو ملاتړ وکړ. د مرستو همغږي د افغانستان د حکومت دنده او مسوولیت دی، او د یوناما دنده دا ده چې د دې ننګوونکې دندې په سرته رسولو، په ځانګړې توګه د خپلو لومړیتوبونو په ګوته کولو او د هغوی د حل لپاره د افغانانو په مشرۍ د همغږۍ چوکاټ په جوړولو کې له حکومت سره مرسته وکړي. د یوناما موخه دا ده چې د افغان لومړیتوبونو سره د بسپنه ورکوونکو د فعالیتونو د سمون زمینه برابره کړي، او د اړتیا په صورت کې، تشو او بیا ترسره کولو ته یې پاملرنه راجلب کړي. د ملګرو ملتونو د ادارو، مرستندویه صندوقونو او پروګرامونو سره په ګډه، دا چاره د مرستې رسولو بهیر، په ځانګړې توګه په ملي او ځايي کچه د مرستو رسولو لپاره د افغان بنسټونو ظرفیت پیاوړی کوي.

۴۰. حکومت د راپور ورکونې مودې په تېرېدو سره د افغانستان ملي پرمختیا ستراتیژۍ ته په لومړیتوب ورکولو کې د پام وړ پرمختګ کړی او د کابل له کنفرانس مخکې یې د یادې ستراتیژۍ د تطبیق لپاره عامه مالي مدیریت او اداري ظرفیت رامنځته کړی دی. د دریو پراختیايي کلسترونو رامنځته کول د حکومت هڅې د بیارغونې او پراختیايي یو لړ هدفي لومړیتوبونو باندې تمرکز کوي چې موخه یې د اقتصادي ودې او د کار پیدا کولو، په ځانګړې توګه د ښاري مرکزونو څخه بهر د خلکو لپاره، ملاتړ کول دي. اوس ۱۸ وزارتونه د لندن په کنفرانس کې له لومړنیو تمو څخه پورته، د کرنې او کلیو د پراختیا کلستر (د کرنې د وزیر په مشرۍ)، د بشري سرچینو د پراختیا کلستر (د پوهنې د وزیر په مشرۍ)، او د زیربناوو او اقتصادي پراختیا کلستر (د کانونو د وزیر په مشرۍ) کې بوخت دي. څلورم کلستر، حکومتولي، هم تاسیس شوی، خو لا یې هم د لومړیتوب لرونکې سکتور ستراتیژي توضیح کړې نه ده او د جون تر لومړۍ نیټې پورې لا هم روښانه نه ده چې څوک به د دې کلستر مشري کوي. د کلستر کړنلاره د افغانستان پرمختیايي اړتیاوو ته د یو منظم ځواب په جوړولو کې د ملي مشرتابه او مالکیت څرګندول دي. همدارنګه دا کلستر وزارتونه د ګډو موخو، چې لومړیتوب لرونکې فعالیتونه او تخمین شوي ملي پروګرامونه هم ورسره مل دي، د تعریف لپاره سره راټولوي. د یادونې وړ ده چې یوناما د کلسترونو او لومړیتوبونو رامنځته کولو او جوړولو په برخه کې د مرستې لپاره فعال رول لوبولی دی.

۴۱. د لندن کنفرانس ژمنه چې د مرکزي بودیجې له لارې د پراختیا لپاره په تدریجي ډول تمویل ته لاره هواره کړې، د یو داسې هیواد لپاره خورا مهمه دی چې نږدې ۸۰ سلنه پراختیايي مرستې یې د دولت د بودیجې له لارې نه لګول کېږي. د مالیې وزارت د بودیجوي مرستو د مدیریت د ښه کولو لپاره د یو لړ هڅونکو اصلاحاتو لکه د پروګرام ډیزاین، د بودیجې لګول او د

ښکاره پایلو په وړاندې د فعالیت اندازه کول، وړاندیز کوي. دا ټول په ګډه بسپنه ورکوونکي دې ته هڅوي څو په بودیجه کې د غیر شامل پراختیایي فعالیتونو په اړه مفصل معلومات چمتو کړي، پرته له دې چې دا په اغېزمنه او ښکاره توګه د ملي پراختیا ستراتیژۍ طرحه او مدیریت کولی نشي.

۴۲. د معلوماتو په شریکولو کې ښه والی او پرمختګ د پرمختګ لپاره د دوه اړخیز مسئول مشارکت پر وړاندې لومړنی ګام دی او باید د حکومت له لومړیتوبونو – له لنډ مهاله ثبات پروژو څخه منځمهاله پایداره پروګرامونو ته ورتلل – سره د تمویلوونکو فعالیتونه د پام وړ سمون ولري. خو د دې ټولو سربېره، اوس د دې وخت رارسېدلی چې د عامو افغانانو په ژوند باندې زمونو د ګډو کړنو اغېزو ته مستقیمه پاملرنه وکړو. حکومت به د کابل په کنفرانس کې له بودیجې بهر بسپنو لپاره د مؤثریت یو لړ اصول او د تمویلوونکو په مشرۍ فعالیتونو طرحه کولو، پلي کولو او څارلو کې د ګډ کار لپاره ځانګړي اقدامات وړاندیز کړي. یوناما به په ملي او ولایتي کچه، افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د نړیوال مرستندویه امنیتي ځواک څخه د امنیت مسؤلیت د دوامداره لېږد په ګډون، د دې هڅو پر ملاتړ تمرکز وکړي.

**ب. حکومتولي او عدالت**

۴۳. د محلي حکومتولۍ د پالیسۍ مسوده د ۲۰۱۰ کال د مارچ میاشتې په ۲۲ نېټه د افغان کابینې لخوا تصویب شوه. دا پالیسي د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د حکومت د پلان شوو کړنو لپاره یو ټولیز چوکاټ برابروي او د ملي لومړیتوبونو په برخه کې په مسؤلانه توګه د پلان جوړولو او وړاندې کولو په موخه د محلي بنسټونو د ظرفیت لوړولو خورا مهمه وسیله ده. یوناما په ګډه د محلي ارګانونو خپلواکې ادارې سره کار کوي څو د تطبیق چوکاټ چمتو کړي او د تمویلوونکو مشارکت او همکارۍ ته لاره برابره کړي. یوناما او د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام به د یاد چوکاټ د تطبیق لپاره له والیانو او شوراګانو او همدارنګه اړوندو وزارتونو سره تخنیکي مرسته وکړي.

۴۴. په محلي کچه د حکومت وړتیا، په سمه توګه د پرمختیایي پروګرامونو په طرحه کولو، څارلو او ارزولو کې د ظرفیت او سرچینو له پلوه له محدودیتونو سره مخ ده. یوناما د ملګرو ملتونو د موجوده ادارو سره په ګډه همکارۍ، د خدمتونو وړاندې کولو او د پرمختیایي فعالیتونو د همغږي کولو په موخه د ولایتي سکتور کاري ډلو د ظرفیت په هکله یوه چټکه او لنډمهاله سروې ترسره کړه. د یوناما سروې په محلي پرمختګ کې څلور جریانونه په ګوته کړل. لومړی، د سکتوري کاري ډلو له لارې د همغږي کولو لپاره د محلي حکومت ظرفیت په ډېرو ځایونو کې محدود دی چیرې چې میکانیزمونه له توقع ښکته کچه کې کار کوي. دوهم، د سکتوري ستراتیژیو همغږي او تطبیق د روغتیا او پوهنې په برخه کې خورا پیاوړی خو د خصوصي سکتور په پرمختیا کې نسبتا کمزوری و. دریم، په څو ولایتونو کې چې د پام وړ امنیتي ننګونو سره مخ دي، د سکتور کاري ډلې یا ورته د همغږۍ جوړښتونو شتون نه درلود. په پای کې، چیرې چې د ظرفیت لوړولو پروګرامونه ترسره شوي، که د ملګرو ملتونو د ادارو

لخوا یا نورو شریکانو لخوا دي، د اړوند سکتور کاري ډلو د سکتوري فعالیتونو د طرحه کولو، همغږۍ او څارنې لپاره ښې ورتیاوې ښودلې.

۴۵. یوناما په عدلي او قضایي سکتور کې د تمویلوونکو د مرستو د همغږۍ هڅې دوامداره ساتلې دي. د کابل کنفرانس لپاره چمتووالی عمده بحث و او د قانون حاکمیت د حکومتولۍ په کلسټر کې یو له څلورو فرعي ډلو څخه و او د کلسټر لپاره د چمتووالي د یوې برخې په توګه دریو قضایي ادارو ته دنده سپارل شوې وه څو په ګډه یو سند ترتیب کړي. که څه هم اټکل نه کېږي چې د عدلي او قضایي سکتور لپاره پروژې له کنفرانس مخکې په بشپړه توګه جوړې شي، خو یوناما به د عدلي او قضایي ارګانونو او تمویلوونکو سره په ګډه خپل کار ته دوام ورکړي څو د عدلي سکتور ملي ستراتیژۍ څخه د عدلي او قضایي اصلاحاتو لپاره ګډ لومړیتوبونه په ګوته کړي.

### ج. بشردوستانه مرستې، بیارغونه او پرمختیا

۴۶. د افغانستان لپاره د ۲۰۱۰ کال د بشري مرستو کاري پلان چې په فبرورۍ کې بشپړ شو، د طبیعي پېښو او جنګ جګړو له کبله زیانمنو شوو له ۷ میلیونو څخه زیاتو وګړو سره د مرستې لپاره د ۸۷۰ میلیونه ډالرو غوښتنه کوي. د یادونې وړ ده چې د جون تر نیمایي پورې د یاد پلان ۴۵.۱ سلنه تمویل ترلاسه شوی دی. د بیړني غبرګون فنډ، چې د ځایي بیړنیو پیښو لپاره د چټک تمویل چمتو کولو او د ملي او محلي غیر دولتي سازمانونو د غبرګون ظرفیت پیاوړتیا لپاره ډیزاین شوی، اوس مهال ۳.۵ میلیونه ډالر لري او د بشري چارو د همغږۍ دفتر لخوا اداره کېږي. یاد فنډ د دریو پروژو لپاره د ۴۹۸۰۰۰ ډالرو په ارزښت مالي تمویل چمتو کړی چې موخه یې د سیلاب ځپلو خلکو سره مرسته کول دي.

۴۷. د فبرورۍ میاشتې په اوږدو کې په هلمند کې ۲۷۷۰۰۰ تنه د پوځي عملیاتو له کبله له خپلو کورونو بې ځایه شول. اړوندو وزارتونو او ملګرو ملتونو همکارو ادارو یاد بې ځایه شوي وګړي ثبت او ۸۸ سلنه بې ځایه شوو کورنیو سره یې د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې وکړې. همدارنګه نړیوال خوراکي پروګرام هم بې ځایه شوو کورنیو ته ۴۹۹۱۲ متریک ټنه د خوراکي توکو کڅوړې ویشلي دي. په یادو ساحو کې د نظامي عملیاتو د دوام، د ابښودل شوو چاودېدونکو توکو شمېر زیاتوالي او د واک د نوو جوړښتونو په اړه د خلکو د اندېښنې له کبله تر اپریل میاشتې پورې د بې ځایه شوو کورنیو د بېرته راستنېدو بهیر لا هم ټکنی و. د ملګرو ملتونو او همکارو حکومتي ادارو لخوا د وضعیت څارنه، د احتیاطي پلانونو له سره جوړول او په ذخیرو او ګودامونو کې د خوراکي او غیر خوراکي موادو ځای پر ځای کول لا هم دوام لري. د هلمند عملیاتو په اړه د بشردوستانه غبرګون بیاکتنې درې اصلي قوتونه په ګوته کړل: د ادارو تر منځ همغږۍ او د معلوماتو شریکولو کې ښه والی، په کافي اندازه د اکمالاتو ځای پر ځای کول او د ارزونو د ثبت او تایید لپاره د ګډ سیستم بریالي پلي کول؛ چې دې چارې د مرستو په چټک او اغیزمن ویش کې مرسته وکړه.

۴۸.	په کندهار کې د پوځي عملیاتو په پیلیدو سره، د خلکو د بې ځایه کیدو او بشري اړتیاوو ته د ځواب ویلو لپاره بیړنۍ کمیټې، چې د حکومت اړوند وزارتونه او بشردوستانه ټولنه پکې شامل دي، رامنځته شوې. په دې موخه نیول شوي چمتووالي کې د خوراکي او غیر خوراکي موادو ځای پرځای کول، د احتیاطي پلانونو نوي کول او د کلیو مشرانو سره د اړیکو زیاتول شامل دي.

۴۹.	د راپور ورکولو مودې پرمهال له پاکستان څخه ۴۸۰۰۰ او له ایران څخه ۲۰۰۰ تنه افغان کډوال د کډوال د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ (UNHCR) د رضاکارانه ستنېدنې پروګرام له لارې هېواد ته راستانه شوي دي. هر افغان چې د دې پروګرام له لارې هېواد ته راستنېږي، خپلو د اوسېدو سیمو ته د واټن په پام کې نیولو سره، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ لخوا ورسره ۱۰۰ امریکايي ډالره مرسته کېږي. د یادونې وړ ده چې لا هم په پاکستان او ایران کې شاوخوا ۲،۷ میلیونه اسناد لرونکي افغان کډوال ژوند کوي، چې زیات شمېر یې له دوو لسیزو څخه زیاتې مودې راهیسې هلته استوګن دي. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري او د افغانستان او پاکستان حکومتونه د مۍ میاشتې په اوږدو کې دې هوکړې ته ورسېدل څو د ۲۰۱۲ کال د ډسمبر میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې په پاکستان کې د اسناد لرونکو افغان کډوالو د رضاکارانه یا په خپله خوښه ستنېدو بهیر درې اړخیزه هوکړه لیک وغځوي. د یادې هوکړې پر بنسټ، درې واړو لورو د افغان کډوالو په خپله خوښه، تدریجي او شرافتمندانه توګه ستنېدو باندې یو ځل بیا ټینګار وکړ.

۵۰.	په وردګو ولایت کې د مۍ میاشتې له ۹ نېټې څخه تر ۱۷ نېټې پورې د کوچیانو او هزاره ګانو ترمنځ د تاوتریخوالي په پایله کې څلور تنه ووژل شول، د خلکو کورونه وسوځول شول او ډېر شمېر یې د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شول. د مۍ میاشتې په ۱۸ نېټه یو حکومتي پلاوي له یادې ساحې څخه لیدنه وکړه او له ښکېلو غاړو سره یو هوکړه لیک چې د مۍ په ۱۹ د ولسمشر د یوه فرمان له مخې له دواړو لورو د اوربند غوښتنه کوي، کوچیانو ته امر وکړ چې د جګړې له سیمو ووځي او د سیمې استوګنو او کوچیانو دواړو لپاره چې زیانونه یې اړولي، یې خسارې جبران کړې. د افغانستان د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې ملي ادارې د مې تر ۲۵ مې نیټې پورې له ۱۲۰۰ کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته کړې ده. د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ د جګړې له پیل راهیسې شاوخوا ۲۵۰ کورنیو ته غیر خوراکي توکي برابر کړي دي. په ورته وخت کې، یوناما د یاد فرمان د تطبیق په هکله د ولایتونو او ولسوالیو په کچه له ټولو اړوندو ذینفع شریکانو سره کار کوي.

۵۱.	د اپریل په ۲۰ نېټه د ریښتر په کچه ۵.۳ درجې زلزلې سمنګان ولایت ولړزاوه، چې شاوخوا ۳۰۰۰ کورونه یې زیانمن او یا ونړول. د بشري مرستو ادارو له ځایي چارواکو سره په ګډه همکارۍ په چټکۍ سره د زیانمنو شوو لپاره خوراکي توکي، سرپناه، غیر خوراکي توکي او روغتیايي مرستې برابرې کړې. نړیوال خوراکي پروګرام (WFP) ۱۷۰۰هغو کورنیو ته خوراکي توکي وویشل چې کورونه یې په بشپړه توګه نړیدلي وو. په ورته وخت کې، د هېواد په زیاتو برخو کې د سیلابونو له امله زیانمنو شوو وګړو سره د نړیوال خوراکي پروګرام لخوا د خوراکي توکو بیړنۍ مرسته وشوه، چې په ۱۱ سیلاب ځپلو ولایتونو کې یې ۱۲۰۰۰ سیلاب ځپلو کورنیو (۷۰۰۰۰ کسانو) سره یاده مرسته ترسره کړې ده.

۵۲.	نړیوال خوراکي پروګرام د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ میاشتې راهیسې ۵۷۶۶۶۰ ماشومانو ته د لوړې انرژۍ بسکویټ او په ښوونځیو کې خوراکي مواد ویشلي دي څو په ښوونځیو کې د ماشومانو شمولیت زیات او ورځنۍ حاضري ثابته پاتې شي. همدارنګه د کار په بدل کې د خوراکي موادو ورکړې فعالیتونو کې شاوخوا ۵۶۵۸۰ تنه (چې ۳۳۹۴۷۱ کسان ترې برخمن کېږي)، د اوبو لګولو کانالونو، لښتیو او فرعي سرکونو رغولو او نیالګیو کینولو کې په کار بوخت دي. سربېره پر دې، ۱۰۰۰۰ کسانو، چې زیات شمېر یې ښځې دي، د مهارتونو روزنه ترلاسه کړې ده.

۵۳.	د ماینونو پوهاوي نړیواله ورځ د اپریل په ۴ نېټه زما د ځانګړي استازي په شتون کې ولمانځل شوه. د ملګرو ملتونو په ملاتړ په افغانستان کې د ماین پاکۍ د همغږۍ مرکز او د یاد مرکز همکارو ادارو په ګډه د ۲۰۱۰ کال د جنورۍ او اپریل ترمنځ موده کې ۷۲۲۹ د پرسونل ضد ماینونه، ۲۹۲ د ټانک ضد ماینونه او د ۲۷۲۰۱۸ له جګړو پاتې نا چاوده توکي له منځه وړي؛ ۳۳ کلي یې د جنګ جګړو څخه پاتې چاودېدونکو توکو له شتون څخه پاک کړي؛ او په ټول افغانستان کې یې ۱۳۵۴۶۲ مېرمنو او انجونو او ۱۸۰۶۰۴ سړیو او هلکانو ته د ماینونو د خطر پوهاوی ورکړی دی. یاد مرکز او د هغې همکارانو د می تر ۳۱ نېټې پورې په افغانستان کې د ۱۱۷۳۶ ماینونو خطر درلودونکو سیمو ۴۳ سلنه برخه له ماینونو پاکه کړې ده.

۵۴.	د روغتیا نړیواله ورځ چې د اپریل په ۷ ونمانځل شوه، د واکسینو اونۍ چې د اپریل په ۲۴ پیلېږي او د ملاریا نړیواله ورځ چې د اپریل په ۲۵ ونمانځل شوه، د حکومت لخوا د شوي پرمختګ ښودنه کوي څو ډاډ ترلاسه شي چې کوچنیان په ټول هېواد کې له مرګونو ناروغیو څخه خوندي ساتل شوي دي. د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق (یونیسف) او د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) د مرستې له لارې له ۲۷۰۰ څخه زیات واکسیناتوران اوس مهال د ثابتو روغتیایي مرکزونو، عامه پوهاوي پروګرامونو او ګرځنده فعالیتونو له لارې په ټول هېواد کې ورځني د کتلوي معافیت خدمتونه وړاندې کوي. د ۲۰۱۰ کال لپاره د پولیو واکسین په شپږو دورو کې د فبرورۍ په میاشت کې پیلېږي او په پام کې ده چې سږ کال به ۷.۷ میلیونه کوچنیان واکسین شي، چې د تېر ۲۰۰۹ کال په پرتله یې په شمېر کې ۲۰۰۰۰۰ زیاتوالی راغلی دی.

۵۵.	د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرمونو پر وړاندې د مبارزې اداره د هېواد په سویل کې د کوکنارو د حاصل زیانمنونکی مرض څاري او لومړنۍ پایلې ښیي چې دا مرض نور مشروع کښتونه نه زیانمنوي. د نشه اي توکو پر وړاندې مبارزې وزیر، د ملګرو ملتونو د نشه اي توکو او جرمونو پر وړاندې د مبارزې اداره او نورې همکارې ادارې یوه سروې ترسره کوي څو د بوټو د دې مرض کچه او د کوکنارو په حاصل او بیو باندې یې تاثیرات و ارزوي. یو اندیښمنوونکی عامل چې ښایي د ۲۰۱۱ کال حاصلات زیانمن کړي، د بیو زیاتېدونکی بهیر دی، چې لامل یې نا امني او په کوکنارو کې لګیدلی مرض دی. په افغانستان کې د چرسو لومړنۍ سروې پایلې د ۲۰۱۰ کال د مارچ په ۳۰ نېټه اعلان شوې، چې پکې په چرسو کرل شوې ځمکه له ۱۰۰۰۰ نه تر ۲۴۰۰۰ هکتارو پورې اټکل شوې او د تولید ظرفیت یې په هر کال کې له ۱۵۰۰ نه تر ۳۵۰۰ ټنونو پورې اټکل شوی دی. پایلې ښیې چې د افغانستان له ۳۴ ولایتونو څخه په ۱۷ کې په پراخه کچه د چرسو بوټي کرل شوي دي. د افغانستان په لوېدیځو پولو کې د چرسو د نیولو او ضبطولو حجم او شمیر کې د پام وړ زیاتوالي راتلو سره د نشه یي توکو د مخنیوي مثبت جریان دوام

لري. په ورته وخت کې، د "افغاني کولو" پروسه نوره هم ګړندۍ شوې، د افغانستان د نشه اي توکو پر وړاندې د مبارزې پولیس د لومړي ځل لپاره د نشه اي توکو د مخنیوي او ممنوعیت په اړه د قانون پلي کولو نړیوالې غونډې په همغږي کې د فعال شریک په توګه کار کوي، چې په پایله کې یې سیمه ایزه همغږي لا زیاته شوې او یو شمېر عملیات ترسره شوي دي. د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې د روزنې په اکاډمۍ کې د روزونکو د روزنې پروګرام بشپړ شوی، چې په پایله کې یې په اکاډمۍ کې د راتلونکې روزنې مسوولیت د افغانانو په غاړه دی. د نشه یي توکو پر وړاندې د مبارزې وزارت نړیوالې ټولنې ته خپل لومړنی لنډ راپور وړاندې کړ، او دا یو داسې تمرین دی چې په منظم ډول به په تکراري توګه ترسره کېږي.

## د. بشري حقونه

۵۶. د ملکي وګړو د خوندي ساتلو او د بشري حقونو په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو امنیت شورا ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پرېکړه لیک سره سم د مېرمنو او ماشومانو د حقونو د پراخ ملاتړ هڅو د څارنې او همغږۍ لپاره د یوناما ماموریت، یو لومړیتوب دی. زما ځانګړی استازی د افغانستان د بشر حقونو خپلواک کمیسیون، ښځو شبکو، غیر دولتي سازمانونو، مدني ټولنې استازو او د قومي مشرانو او دیني عالمانو سره په ګډه کار کوي څو د افغانانو غوښتنې د افغانانو په مشرۍ روانو بهیرونو او پروسو کې په پام کې ونیول شي. یوناما د تصمیم نیونې په بهیرونو کې د افغان مېرمنو د ګډون زیاتولو لپاره د حق غوښتنې هڅو او پروګرامونو ملاتړ کوي څو دا څرګنده شي چې د ښځو د حقونو موضوع لا هم لومړیتوب دی.

۵۷. یوناما د ۲۰۱۰ کال د اپریل او جون ترمنځ موده کې د جنګ جګړو اړوند د ملکي تلفاتو شمېر ۳۹۵ ښودلی دی، چې د تېر ۲۰۰۹ کال د ورته مودې په پرتله ۱ سلنه کموالی ښیي. د دولت ضد عناصرو د دغو پېښو زیاتې برخې مسؤلیت په غاړه اخیستی چې د راپور ورکونې د تېرې مودې د ۶۷ سلنې په پرتله په دې موده کې ۷۰ سلنې ته پورته شوی دی. د دولت ضد عناصرو په زیات شمېر پېښو کې په زیاته کچه ملکیان ترور، تښتولي او یا وژلي دي. د دولت پلوه ځواکونو لخوا په ترسره شوو عملیاتو کې د زور زیاتي څخه کار اخیستلو له امله د پلټنې په محلونو یا نظامي کاروانونو سره په نږدې فاصله کې یو شمېر ملکیان وژل شوي او ټپیان شوي دي. د دغو تلفاتو د راکمولو لپاره یو لړ تدابیر ترلاس لاندې نیول شوي لکه، د نظامي کاروانونو لخوا د اخطارېي اشارو یا سګنالونو ورکولو په هکله د معلوماتو ورکلوو عامه کمپاین، د اخطارېي ورکولو د نورو غیر وژونکو کړنلارو څخه د کار اخیستلو زیاتول او د نړیوال مرستندویه امنیتي ځواک د قوماندان لخوا د ۲۰۰۹ کال د جولای تکتیکي لارښوونو تکرارول چې د ځواک کارول محدودوي.

۵۸. د نړیوال مرستندویه امنیتي ځواک ډیری مرسته کونکو او بسپنه ورکوونکو هیوادونو د ۲۰۰۶ نړیوال امنیت مرستندویه ځواک معیاري عملیاتي کړنلارې ته د غیر ایساف پرسونل د توقیف په اړه ملي احتیاطي شرایط او محدودیتونه ورزیات کړي، چې پکې د نظامي عملیاتو په ترسره کولو کې د اشخاصو د توقیف کولو لپاره د ۹۶ ساعتونو وخت ټاکل شوی، چې

له دې وخت وروسته ایساف باید بندیان خوشې کړي یا یې افغان چارواکو ته وسپاري. په دې برخه کې دا مهمه ده چې د افغان چارواکو له خوا د هر ډول اوږده توقیف ترڅنګ مناسب عدلي او قضايي څار هم ترسره شي.

۵۸. د انتقالي عدالت د همغږۍ ډلې د مې په ۹ نېټه د "عدالت لپاره د قربانیانو جرګه" جوړه کړه څو د قربانیانو لپاره یو فورم چمتو کړي چې د دوی د سرغړونو او رسېدلو زیانونو او کړاوونو کیسې بیان کړي او دا معلومه کړي چې د سولې او پخلاینې په بهیر کې باید د ظلمونو میراث څنګه له منځه لاړ شي. د غونډې په پای کې ګډونوالو له حکومت څخه وغوښتل چې د سولې، عدالت او پخلاینې لپاره کاري پلان پلې کړي، د معافیت د ختمولو لپاره دې کوټلي ګامونه پورته کړي، د ښښنې قانون دې لغوه کړي او د سولې او پخلاینې په بهیر کې دې د قربانیانو غږ ته ځای ورکړي.

**و. د ماشوم خوندیتوب**

۶۰. د هېواد په کچه کاري ډلې لخوا د ماشومانو د حقونو څخه د جدي سرغړونې له ۴۲۰ څخه زیاتې پېښې ثبت شوي او تائید شوي دي، د جنګ جګړو اړوند تاوتریخوالي له کبله ۳۳۲ ماشومان وژل شوي یا معلول شوي دي، چې د راپور ورکونې د تېرې مودې په پرتله زیاتوالی ښیي او ستر لامل یې په هلمند او ختیځو او شمال ختیځو ولایتونو کې د نظامي فعالیت زیاتوالی ښودل شوی دی. د حکومت ضد ډلو لخوا د چاودېدونکو توکو د کارونې او ځانمرګو بریدونو زیاتوالی د شاوخوا ۶۰ سلنه ماشومانو د تلفاتو لامل شوی دی. د حکومت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ په نښتو کې ۲۴ ماشومان وژل شوي دي.

۶۱. پر ښوونځیو بریدونه هم په ټول هېواد کې زیات شوي دي، چې د نورو سیمو په پرتله په شمالي، شمال ختیځو، سویلي او مرکزي سیمو کې تر ټولو لوړې کچې ته رسېدلي دي. د دغه ډول پېښو ۷۲ سلنه یې د حکومت ضد ډلو لخوا ترسره شوي چې د زده کوونکو او ښوونکو د تهدیدولو او ډارولو؛ په ښوونځیو کې د چاودېدونکو توکو ځای پر ځای کولو؛ تښتونو، د ښوونځیو د کارکوونکو د وهلو او وژلو، سوځولو او پر ښوونځیو د ښکاره هدفي بریدونو پېښې پکې شاملې دي.

۶۲. د افغان ملي امنیتي ځواکونو په لیکو او ځایي دفاعي فعالیتونو کې د ماشومانو استخدامول یوه اندېښنه ده. یو مثبت خبر دا دی چې د کورنیو چارو وزیر د اپریل په ۲۵ نېټه د ملي پولیسو په لیکو کې د ماشومانو د استخدام د مخنیوي امر وکړ او یادونه یې وکړه چې د هغو قوماندانانو پر وړاندې به جزايي اقدامات ترسره شي چې د پولیسو په لیکو کې ماشومان استخداموي.

**ی. د ماموریت کارونه، ملاتړ او امنیتي موضوعات**

۶۳. یوناما د خپل جوړښت او اداري تشکیل یوه بیاکتنه ترسره کړه څو په ګوته شوو لومړیتوبونو په خورا ګټوره توګه سرته رسولو لپاره خپل اداري جوړښت تنظیم او عیار کړي او د زیاتو امنیتي خطرونو سره د خپلو کارکوونکو د مخامخ کولو د مخنیوي لپاره د هر ډول اقداماتو ترسره کولو پرمهال د پروګرام مهم ظرفیت څخه ځان ډاډمن کړي. په کابل کې د باختر په مېلمستون باندې د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په ۲۸ نېټه له برید وروسته د ماموریت د ملاتړ ګټور او اغېزناک خدماتو چمتو کول د اړتیاوو له امله له ننګونو سره مخ دي او د تګ راتګ د پرله پسې محدودیتونو او د کارکوونکو د کمښت له امله نور هم محدود شوي دي.

۶۴. د دولت ضد عناصرو لخوا د ګواښونو باوري راپورونو کې په تکرار سره ویل کېږي چې د ټول هېواد په کچه د ملګرو ملتونو حضور او موجودیت د دوی د لا زیاتو بریدونو احتمالي هدف دی. د مرستندویه ټولنې د داخلي کارکوونکو پر وړاندې موجوده مستقیم تهدیدونه او تښتونې په ساحه کې د پروګرامونو پلي کول له خنډ او ځنډ سره مخ کوي. د کورنیو چارو وزارت او د ځایي سیمو او کلیو مشرانو ترمنځ نږدې همغږۍ په پایله کې په بغلان ولایت کې د اپریل په ۱۵ نېټه د ملګرو ملتونو پنځه تښتول شوي افغان کارکوونکي راخوشې او د مۍ په ۱۸ نېټه په خوندي توګه له خپلو کورنیو سره یوځای شول.

۶۵. بې ثباته امنیتي چاپېریال د ملګرو ملتونو د پرسونل، شتمنیو او عملیاتو پر وړاندې پر یو لوړ امنیتي خطر بدلېږي. د مرکزي دفتر له غوښتنې سره سم، یوناما او د ملګرو ملتونو د هیواد په کچه ټیم یوه بیاکتنه وکړه څو معلومه کړي چې کوم فعالیتونه د شته امنیتي ګواښونو پر وړاندې د متوازن کیدو په صورت کې د نړیوالو کارکوونکو شتون ډاډمنولو لپاره خورا مهم دي. په داسې حال کې چې پر باختر مېلمستون له برید وروسته زیات شمېر کارکوونکي بېرته هېواد ته راستانه شوي دي، یوناما د خپلو کارکوونکو د ګمارنې د کچې بیاکتنه وکړه څو ډاډ ترلاسه شي چې په هېواد کې موجودو کسانو ته خوندي مکانونه او دفترونه برابر شوي دي. په یاده بیاکتنه کې په هیڅ وخت کې په افغانستان کې د اصلي کارکوونکو په ریښتینې شمیر کې د پام وړ کمښت وړاندوینه نه ده کړې.

۶۶. یوناما د "درې جمع یو لومړیتوبونو" په ملاتړ ساحوي دفترونو د ترتیب او تنظیم لپاره کار کوي او په ځانګړې توګه، د ظرفیت لوړونې، د شرایطو برابروالي په صورت کې د "یوه ملګرو ملتونو" تګلارې پر بنسټ د زیاتو مرستو رسولو او په ساحه کې د حکومت د لومړیتونو سره د ډونرانو د انسجام زمینې برابرولو په ګډون؛ د حکومتولۍ او پرمختیایي فعالیتونو په برخه کې د سیمه ایزو چارواکو سره د مرستې له لارې د ولایتونو په کچه د مرستې همغږي لا زیاتوي او اسانتیا ورته برابروي.

۶۷. د ماموریت په عملي کولو کې د ترټولو لوی واحد ماموریت ملاتړ ننګونه، په ځانګړې توګه په ساحوي دفترونو کې، د نوي لړترلړه عملیاتي استوګنیزو امنیتي معیارونو د پوره کولو اړتیا ده. ډیری ځایونه ټاکلي معیارونه نه پوره کوي، او یوناما له همدې کبله د یادو معیارونو د ښه والي او پیاوړتیا یو پیاوړی پروګرام تر لاس لاندې لري. سره له دې چې په دې هم کار روان دی، د تشو بستونو او په ځانګړې توګه د نړیوالو بستونو ډکول او د کارکوونکو ګمارل، باید په خورا دقت سره ترسره شي څو د خوندي دفترونو او استوګنیزو ساحو له شتون څخه ډاډ ترلاسه، او په ورته وخت کې، د هر پروګرام د اهمیت په هکله په تدریجي توګه زیاتېدونکو وړاندیزونو او سپارښتنو سره سمون ولري. د دفتر او استوګنیزو ساحو د امنیت زیاتول یوه اړتیا ده څو امنیتي خطر د پام وړ راکم شي او نه یوازې دا چې امنیتي موانع ولګول شي بلکې تر دې زیات موارد لکه، په مخابراتي او معلوماتي ټکنالوژۍ برخو کې ښه والی، هدفي هوایي خدمتونه او په استوګنیزو کمپونډونو کې دننه د نړیوالو وسلوالو ساتونکو شتون، په پام کې ونیول شي.

۶۸. غړي هیوادونه به د دې یادونه وکړي چې د ۲۰۱۰ کال لپاره د یوناما بودیجه په کابل کې د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر په ۲۸ نیټه پر باختر میلمستون له برید سمدستي وروسته سپارل شوې وه او دا چې بودیجه د برید څخه دمخه د اغېزمنو امنیتي خطرونو د ارزونې په شرایطو کې ترتیب شوې وه. وړاندیز شوي تمویلونه د راتلونکو څو میاشتو پېښو د لګښت پوره کولو لپاره کافي دي پداسې حال کې چې بیاکتنه ترسره شوې څو معلومه کړي چې په امنیت کې نور کوم ډول ښه والي ته اړتیا لیدل کیږي. د امنیت اړوند توکو، تجهیزاتو او خدماتو لپاره د اضافي سرچینو اړتیاو په اړه د غړو هیوادونو مثبت نظر د ملګرو ملتونو دارالانشاء لخوا ډېر ستایل شوی دی.

۶۹. له هغه راهیسې چې یوناما ته په یوناما کې په کار پورې محدود د دندې وړاندیزونو د صادرولو واک ورکړل شوی، د کارکوونکو د ګمارنې په چارو کې ښه والی راغلی او په ورته وخت کې د ساحوي مرکزي بیاکتنې بورډ پروسه هم د بشپړېدو په حال کې ده. د مارچ میاشتې په ۳۰ نېټه د نړیوالو کارکوونکو د تشو بستونو کچه ۴۲ سلنه او د داخلي کارکونکو د تشو بستونو کچه ۳۸ سلنه وه؛ خو د مې میاشتې تر ۱۶ نېټې پورې یاده کچه په ترتیب سره ۳۹ سلنې او ۳۰ سلنې ته راټیټه شوه. که څه هم، د کارکوونکو ګمارنه لا هم تر یوه بریده یوه اندېښنه ده ځکه ځینې نوماندان په ځینو سیمو کې د لوړ خطر درلودلو او د کار کولو د غیر منظمو شرایطو د شتون، او یا تر یوه بریده د وروستیو وړاندیزونو له کولو او سفر کولو مخکې د اوسېدو ځایونو ترلاسه کولو اړین شرط له کبله، دندې کولو ته زړه نه ښه کوي. د ماموریت د پوره کولو لپاره د کافي شمیر کارکوونکو ګمارلو او ساتلو ننګونه د ۲۰۱۰ کال د جنوري څخه تر اپریل پورې په ارقامو کې څرګنده شوې ده. که څه هم، په دې موده کې ۲۱ ګمارل شوي کارکوونکي دندو ته راغلي دي، خو د ۲۱ کارکوونکو د تنزیل او ۲۴ کارکوونکو جلاوالي د منفي توازن تر سیوري لاندې راغلی دی. د کاري اجراآتو د شرایطو د ښه کولو او د استخدام ګړندي کولو لپاره نورو هڅو ته هم اړتیا ده. زه په دې برخه کې، د بشري سرچینو د مدیریت، او په ځانګړې توګه د کار کولو د شرایطو د موضوع په هکله د عمومي غونډې په راتلونکو بحثونو کې د یوې مثبتې پایلې په تمه یم.

۷۰.	په یو داسې پلان کار روان دی څو ځینې مرستندویه عملیات، ممکن په راتلونکو دریو میاشتو کې، د عراق لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت سره په ګډ موقعیت کې، کویټ ته ولېږدول شي. د دې کار موخه د ماموریت په سرته رسولو کې د ملاتړ کمرنګه کېدو پرته په افغانستان کې د یوناما د کارکوونکو د ټولیز شمېر راکمول دي. همدارنګه دا پلان د اړیکو ښه او پراخه ظرفیت، په تېره بیا د بحران د عادي کېدو او د ماموریت له ساحې بهر د سوداګرۍ دوام اساس په پام کې نیسي. تر ټولو مهمه دا چې دا مرستندویه او حمایوي دفتر، په داسې حال کې چې په افغانستان کې د اوسېدنې ارزښتناکه ځای د کارکوونکو پرمخ خلاصوي، د امنیتي دلایلو له مخې به له افغانستان څخه د لنډمهال لپاره د کارکونکو د لیږد اړتیا په صورت کې په آسانۍ سره عملیاتي هډه چمتو کړي.

**څلورم: مشاهدې (ارزونې)**

۷۱.	زما د تېر راپور (A/64/705/-S/2010/127) راهیسې، په ټولیز ډول امنیتي وضعیت ښه شوی نه دی. پر ملکي هدفونو، د حکومت پر استازو او د نړیوالو نظامي ځواکونو پر وړاندې د دولت ضد عناصرو بې توپېره بریدونه لا هم دوام لري. د چاودیدونکو توکو د زیاتوالي او د پیچلو ځانمرګو بریدونو د پېښو زیاتیدو د اندېښنې وړ بهیر هم دوام لري. پوځي عملیاتو هم زور اخیستی دی.

۷۲.	د بې ثباته امنیتي چاپیریال سربېره، د راپور ورکولو موده په ملکي سکتورونو کې د یو شمیر مثبتو پرمختګونو شاهده وه ځکه چې د افغانستان حکومت د سیاسي بهیر د پرمختګ او د امنیت د "افغاني کولو" په لور د اصلاحاتو اجنډا د پلي کولو لپاره د پرمختللې کړنلارې په لاره اچولو کې مخکښوالی وکړ. حکومتولي او پراختیا، د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژۍ درې مهم ارکان دي، چې د لندن په کنفرانس کې ترتیب شوي او ټاکل شوي دي.

۷۳.	زه د افغان ملي شورا ټاکنو لپاره چې ټاکل شوې د سپتمبر په ۱۸ نېټه ترسره شي، د افغان ټاکنیزو بنسټونو لخوا نیول شوي چمتووالي څخه خوښ یم. د ټاکنو خپلواک کمیسیون د خپل نوي مشرتابه لاندې خپلې چارې په یو نوي تحول او خپلواکۍ سره پیل کړې دي. همدارنګه د ټاکنیزو شکایتون اورېدو کمیسیون د خپلو افغان او نړیوالو کمیشنرانو ترمنځ یو مثبت کاري تحرک او تحول ایجاد کړی او دواړو کمیسیونونو په ګډې همکارۍ سره له کومې پېښې پرته د نوماندانو د ثبت موده پای ته رسولې ده. د رهبرۍ په برخه کې د افغانستان د ټاکنیزو بنسټونو پیاوړي کول به د ټاکنو پر بهیر د خلکو باور زیات کړي او په ښو او معتبرو ټاکنو کې به مرسته وکړي. زه په ځانګړې توګه خوښ یم چې د نوماندانو په ابتدایي نوملړ کې له ۴۰۰ څخه د زیاتو میرمنو نومونه شامل دي. دغو میرمنو ته باید کافي امنیت برابر شي څو ډاډ ترلاسه شي چې دوی د ټاکنو بهیر ته یو شان او مساوي لاسرسی لري. د ټاکنو امنیت لا هم یوه مهمه او حساسه موضوع ده او د ټاکنو خپلواک کمیسیون باید د رای ورکولو د مرکزونو امنیت تأمین کړي ځکه اړتیا ده چې ټولټاکنې د ټولو افغانانو لپاره د لاسرسي وړ وي. په ورت وخت کې، موږ باید په دې حقیقت سترګې پټې نکړو چې د ټاکنو پروسه یوازې د ۲۰۱۰ کال رایې ورکولو بهیر نه دی، بلکې دا یوه پراخه او لویه پروسه ده. په داسې حال کې

چې په تېرو میاشتو کې په ټاکنیزو بنسټونو کې اصلاحات رامنځته شوي، هر اړخیزو او اوږدمهاله ټاکنیزو اصلاحاتو ته لا هم اړتیا ده. زه هیله لرم چې دا به د ولسمشر او نوي ولسي جرګې په اجنډا کې وي.

۷۴. زه د سولې د مشورتي جرګې له پایلو خوښ یم، چې په افغانستان کې د ثبات او سولې د لاسته راوړلو په موخه د هر اړخیزو خبرو اترو د پر مخ بیولو لپاره ټولو افغانانو ته د رسیدو په لور یو ګام دی. ملګري ملتونه په افغانستان کې د شخړو د پای ته رسولو لپاره د داسې ملي هڅو ملاتړ کوي او د افغان چارواکو او خلکو سره په بشپړ ډول کار کولو ته ژمن پاتې کیږي، څکه چې دوی د یوې سوله ایزې او ټول ګډونه ټولنې لپاره هڅې کوي. د سولې او بیا یوځای کېدو د پروګرام پراخ تائید او د بین الافغاني خبرو د پرمخ بیولو لپاره د سولې د عالي شورا جوړیدل، د لومړي ځل لپاره ښه پرمختګونه دي چې باید تعقیب شي او د پخلاینې پراخ بهیر کې ځای ورکړل شي. زما ځانګړي استازي او یوناما د حکومت په غوښتنه، د افغانانو په مشرۍ د دغو پروسو د تطبیق په برخه کې د منځګړیتوب او سیاسي پوهاوي د برابرولو لپاره چمتو دي. په دې هکله پراخه اجماع شتون لري چې د افغانستان شخړه د ګاونډیو هیوادونو په ملاتړ سیمه ایز حل ته اړتیا لري. یو باثباته، سوله یيز او سوکاله افغانستان د ټولو ګاونډیانو او سیمې په ګټه دی. زما ځانګړی استازی او یوناما چمتو دي، چې د مهمو سیمه ایزو ذینفع شریکانو ترمنځ د ډیالوګ فرصتونه برابر کړي څو داسې بحثونو او خبرو اترو ته زمینه برابره شي چې په افغانستان کې د سولې په بهیر کې مرسته وکړي.

۷۵. د افغانستان حکومت اوس د کابل د کنفرانس لپاره چې د ملګرو ملتونو څخه د یاد کنفرانس د ګډ مشرتوب غوښتنه شوې وه، خپل نظر څرګند کړی دی. یوناما به له حکومت سره د بودیجې له لارې د مرستو د جریان په زیاتولو، له بودجې څخه بهر د مرستو د اغیزمنتیا د ښه کولو او د امنیت، حکومتولۍ او د افغانانو په مشرۍ په بریالیتوب سره د امنیت د کنټرول په برخه کې، په کابل کنفرانس کې له افغان ولس سره د شوو ژمنو په پوره کولو کې له حکومت سره مرسته وکړي.

۷۶. د مرستو انسجام د ګډې اغېزناکتیا لومړی ګام دی. دا د حکومت په ملاتړ او د ټولو همکارو شریکانو سره د کار کولو له لارې رامنځته کېدای شي چې موږ کولای شو د دوه اړخیزو مکلفیتونو پر بنسټ چې ټولو افغانانو ته د خدمتونو په رسولو کې زیاتوالی راولي، په ریښتینې توګه د منسجمو مرستو هڅې رامنځته کړو. دا خورا مهمه ده چې نړیواله ټولنه د افغانستان د ملي لومړیتوبونو د لاسته راوړلو وړ او د باور وړ ملي لومړیتوبونو پروګرامونو تر شا د تمویلوونکو سرچینو د بیا تنظیمولو لپاره خپله روښانه اوږدمهاله ژمنتیا وښیي.

۷۷. حکومت غواړي د تمویل د ښو اصولو د پلي کولو لپاره میکانیزمونه واضح کړي. په ملي او محلي کچه به د ظرفیت جوړونې پایداره او منظم ملاتړ ته په جدي اړتیا باندې ټینګار وشي څو حکومت وکولای شي خپله لومړیتوب لرونکې اجنډا پلې کړي. دواړه مخکینې شرطونه د متقابل باور د پیاوړتیا لپاره خورا مهم دي، چې دا به د جولای په ۲۰ نېټه د کابل کنفرانس څخه وروسته به د افغانانو لخوا د پرمختلونکې جوړې شوې لارې نقشې په ملاتړ کې نوې ملګرتیا وي.

۷۸.	د افغان ملي امنيتي ځواکونو د پرمختګ لپاره د پام وړ ودې او اصلاحاتو پلانونو سربېره، امنيتي چاپېريال لا هم بې ثباته دی. د امنيتي سکتور د اصلاحاتو هراړخيزې تګلارې ته اړتيا ده چې د اغېزمنې حکومتولۍ او په سياسي بهير کې د دوامداره پرمختګونو ملاتړ وشي، څو د متمرکزو نظامي هڅو مقابله وشي. يوناما پر ټولو ښکېلو خواوو باندې غږ کوي څو د ملکي وګړو خونديتوب ته لومړيتوب ورکړي.

۷۹.	يوناما د حکومت او آيساف سره د لېږد په بهير کې د مرکزي دفتر او ساحوي دفترونو په کچه ګډ کار او ښکيلتيا ته ژمنه ده. په دې برخه کې، يوناما به د هغو چارو ملاتړ ته دوام ورکړي چې د ځايي اړتياوو او شرايطو تنوع، د ظرفيت جوړونې اصول چې د افغانستان لومړيتوبونو او ملي پروسو سره تړاو لري، او د يو فعال دولت د جوړولو لپاره مساوي تګلاره په پام کې نيسي. سږنی کال د افغانستان د تحول په برخه کې يو مهم کال دی او دا د يوناما دنده ده چې خپلې هڅې په محدودو لومړيتوبونو باندې متمرکزې کړي، چيرې چې دا اداره ارزښتناکې او اغېزمنې کړنې ترسره کولای شي. ملګري ملتونه په افغانستان کې د اوږد مهاله حضور دوام ته ژمن دي، او د يو ګټور او اغېزناک حضور درلودل به د پام وړ پايداره اضافي سرچينو ته چې د کارکوونکو د امنيت لپاره ځانګړې شوې وي، اړتيا ولري. زه د کارکوونکو د امنيت خطرونو راکمولو په موخه د دې ماموريت د مشرتابه فعالې تګلارې څخه خوښ او راضي يم.

۸۰.	د يوناما د ماموريت په تطبيق کې د پرمختګ د معلومولو او څارلو لپاره د ټاکل شوو اهدافو پر وړاندې د پرمختګ ارزونه به هر کال په مارچ مياشت کې د ماموريت د تمديد سره هم مهاله ترسره شي.

۸۱.	غواړم له دې فرصت څخه په ګټې د خپل نوي ځانګړي استازي، ستېفن دي ميستورا او د سياسي چارو لپاره زما د ځانګړي استازي مرستيال، مارتين کوبلر ته د راتګ هرکلی ووايم. همدارنګه غواړم په افغانستان کې د يوناما او د ملګرو ملتونو کورنۍ د نارينه او ښځينه کارکوونکو څخه د خپلو دندو په ترسره کولو کې د دوی د اخلاص او ژمنتيا څخه مننه وکړم.